مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۰۹/۲۶

# د سپوږمۍ ارزښت

زما ان په ستورو هم زړه وسوځيږي
چې ټوله شپه
د سپوږمۍ مخې ته
د خپلو اوښکو چراغان کې شوګیره وکړي
خو تر سهاره يې همدا فداکاري
هيڅ نتيجه را نه وړي
او غاورې پېغلې غونډې مسته سپوږمۍ
يوه مچو د اننګي ورنکړي
زه هغې شپې ځخه ډاريږمه چې
ستوري راټول شي
يوه نوې محبوبا وټاکي
بيا به ارزښت د سپوږمۍ څه پاتې شي؟
سپوږمۍ که ګرانه ده په ستورو ده
چې ټوله شپه
وصال ته وينه تر سبا تېروي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ